

# د زده کوونکو لپاره مالي مرسته

## د FAFSA یا WASFA په بشپړولو سره

hopelink

BELLEVUE COLLEGE

## مالي مرسته څه ته ویل کیږي؟

مالي مرسته هغه پیسو ته ویل کیږي چې د لوړو زده کړو د لګښتونو په تادیه کولو کې مرسته کولی شي.

کالجونه او مسلکي ښوونځي د FAFSA او WASFA په څېر غوښتنلیکونه کاروي ترڅو دا وټاکي چې تاسو د مالي مرستې لپاره تر څومره حده وړتیا لرئ. په مالي مرسته کې کېدای شي وظیفې، سکالرشیپونه، د کار او زده کړې بودیجه، او پورونه شامل وي.

## د فدرالي زده کوونکو د مالي مرستې لپاره وړیا غوښتنلیک (FAFSA)

زیاتره زده کوونکي FAFSA بشپړوي. دا غوښتنلیک د امریکا د اتباعو او مستحقو غیر اتباعو لپاره دی، ترڅو د فدرالي او ایالتي مالي مرستې لپاره درخواست ورکړي.

## د واشنګټن د ایالتي مالي مرستې لپاره غوښتنلیک (WASFA)

کوم زده کوونکي چې د خپل کډوالۍ د وضعیت له امله د FAFSA لپاره وړ نه وي، کولی شي د ایالتي مالي مرستې لپاره د WASFA له لارې غوښتنه وکړي.

## سرچینې

- د فدرالي زده کوونکو د مالي مرستې وېب سایټ: studentaid.gov
- د واشنګټن ایالت د مالي مرستې وېب سایټ: wsac.wa.gov/wasfa
- د غوښتنلیک د پروسې په اړه د ویډیو له لارې ګام په ګام ښوونې چې د واشنګټن د زده کوونکو د لاسته راوړنو د شورا لخوا چمتو شوې: wsac.wa.gov/apply
- اوټر بوټ (OtterBot) ته پیغام واستوئ، دا یو خدمت دی چې د واشنګټن د ټولو عالي لیسې زده کوونکو او د دوی د والدینو/سرپرستانو ملاتړ کوي. د پیل لپاره، "Hi OtterBot" متن ولیکئ او دې شمیرې ته یې واستوئ **360-634-0354**.

تاسو پوښتنې لرئ یا د مالي مرستې د غوښتنلیک په پروسې کې مرستې ته اړتیا لرئ؟

د هوپ لینک (Hopelink) سره اړیکه و نیسئ:
FinancialEd@hopelink.org
425-250-3003

# د FAFSA د بشپړولو لپاره ګامونه

**#1**

**StudentAid.gov اکاونټ جوړ کړئ او د غوښتنلیک له پیلولو مخکې د فدرالي زده کوونکي مالي مرستې ID ترلاسه کړئ.**

زده کوونکي او د دوی مرسته کوونکي دواړه به اکاونټ ته اړتیا لري. مرسته کوونکي هغه کس دی چې د FAFSA د بشپړولو لپاره یې مالي معلومات اړین وي. د مرسته کوونکو په اړه نور معلومات دلته ترلاسه کړئ bit.ly/4kngmjD

**#2**

**اسناد راټول کړئ.**

زده کوونکي او د دوی مرسته کوونکي به اړتیا ولري چې خپل دا معلومات چمتو کړي:

- د سوشل سکیورټي شمیرې
- د مالیې د عوایدو اسناد
- د ماشوم د ترلاسه شوي ملاتړ اسناد
- د نغدو پیسو، سپما، او پانګونو اوسنی بیلانس

**#3**

**دا وټاکئ چې تاسو یو متکي یا خپلواک زده کوونکی یاست.**

ستاسو د متکي کېدو حالت ټاکي چې د FAFSA د ډکولو پر مهال د چا معلومات باید ورکړئ.

**#4**

**د FAFSA د غوښتنلیک فورمې ټولې اړینې برخې په بشپړ ډول ډکې کړئ.**

تاسو باید د FSA ID سره لاګ ان شئ چې په لومړي ګام کې مو جوړه کړې وه.

**#5**

**لاسلیک، خوندي یې کړئ او وسپارئ.**

- د شرایطو او مقرراتو تایید وکړئ.
- خپله فورمه په بریښنایي توګه لاسلیک کړئ.
- وسپارئ!

**یادونه:** د FAFSA فورمه تر هغه بشپړه نه ګڼل کیږي څو پورې چې ټول اړین مرسته کوونکي خپل معلومات ورکړي او لاسلیک یې کړي.

## بیا به څه کیږي؟

**د خپل غوښتنلیک حالت ګورئ ترڅو ډاډ ترلاسه کړئ چې دا په بریالیتوب پروسس شوی او نور هیڅ اقدام ته اړتیا نشته.**

د خپل StudentAid.gov اکاونټ ته لاګ ان شئ او د خپل اکاونټ په"My Activity" برخه کې خپله FAFSA سپارنه وټاکئ ترڅو د غوښتنلیک وضعیت وګورئ.

# د FAFSA لپاره وړ نه یاست؟

## کیدای شي تاسو د ایالت د مالي مرستې لپاره د WASFA له لارې وړ یاست

د واشنګټن ایالت د مالي مرستې لپاره غوښتنلیک (WASFA) د هغو زده کوونکو لپاره دی چې د خپل مهاجرتي حالت له امله د فدرالي مالي مرستې لپاره وړ نه وي.

دا غوښتنلیک وړیا دی. د غوښتنلیک د سپارلو نه مخکې تاسو باید په واشنګټن ایالت کې لږ تر لږه یو کال اوسیدلي یاست.

د WASFA پوښتنلیک بشپړ کړئ ترڅو وګورئ چې تاسو وړتیا لرئ یا نه.

wsac.wa.gov/WASFAelig

**یواځې یو غوښتنلیک بشپړوئ، FAFSA یا WASFA ، دواړه مه بشپړوئ.**